مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لیوال

۲۰۲۴/۰۱/۲۷

# «عشقت رِسَد به فریاد ار خود به سانِ حافظ قرآن ز بَـــر بخوانی در چاردَه روایت»

## د استاد قاري برکته‌الله سلیم مړینه




إِذَا الشَّمْسُ كُوِّرَتْ
کله چي لمر سره راونغاړل شي
وَإِذَا النُّجُومُ انْكَدَرَتْ
او کله چي ستوري په تیاره کي ورک شي
زموږ د «هسکي مېنې» شنه ځېرى به
د ستر ښبنتن دربار ته
سر په سجده ښکته کړي،
چي: زما په ځانګو کي مرغۍ لا تلاوت ته غوږ دي
زما د «سلیم» د خوږه غږ انګازي
لا کنګرو کي د عرش داسي تاو دي
لکه پیروته، چي ګلاب نه تاو شي
غلي شئ!


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ

غوږ ونیسئ
د «برکت» آواز دی:
وَإِذَا الْمَوْءُودَةُ سُئِلَتْ
پوښتنه کیږي، د ژوندیو ښخو شویو نجونو
غلي شئ!
غوږ ونیسئ!
د « هسکي مېني» د خېږې ځانګو کې ناستي مرغۍ
د «برکت» په غږ مېيني دي او
څوک يې ځواب نه لري:
بِأَيِّ ذَنْبٍ قُتِلَتْ
دوی وژل شوې دي په کومه ګناه؟
دوی وژل شوې دي په کومه ګناه؟
غلي شئ!
غوږ ونیسئ!
د عرش له ښکلیو ګلدستو نه یو اواز راځي
د مېني راز راځي
«سلیم» قرآن وايي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ